

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديْ اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۲۲ | مسلسل نمبر: ٦۴

شنبه، د ربیع الاول ۱۱ مه، ۱۴۴٦ هـ. ق کال


## تاپي او نورې پراختیایي پروژې د اسلامي امارت او د ترکمنستان مسوولینو په حضور کې پرانیستل شوې



۲ صفحه

## کار اعمار لین دوم شاهراه کابل - غزنی آغاز گردید



۳ مه صفحه

## د کابل - غزني دویم لین سړک ارزښت ته کتنه



۳ مه صفحه



## سرلیکنه

د افغانستان په خاوره کې د تاپي ګازو نللیکي او یو شمېر پراختیایي پروژو عملي چارې د ۱۴۰۳ لمریز کال د وږي په ۲۱مه پیل شوې. په هغو مراسمو کې چې له همدې امله د ترکمنستان په سرحدي سلیم چشمې ماري سیمه کې جوړ شوي و، د اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د کابینې غړو، یو شمېر مسوولینو، د ترکمنستان ملي مشر قربان قلي بردي محمدوف او د یاد هېواد حکومتي مسوولینو ګډون کړی وو. وینااوالو د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې د عملي چارو د پیل ورځ یوه تاریخي ورځ وبلله او ویې ویل چې له کلونو ځنډ وروسته دا پروژه پیل شوه. ځینو بیا په خپلو خبرو کې دې ټکي ته اشاره وکړه چې دا ډول پروژې د دواړو هېوادونو تر څنګ د سیمې له پاره هم مهمې دي.

اسلامي امارت له هر څه وړاندې د افغانستان لویدلي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره خپلې هلې ځلې چټکې کړې دي او په دې برخه کې له ټولو هغو لارو چارو ګټه پورته کوي چې د افغانستان اقتصاد ورسره پیاوړی کېدای شي. په دې برخه کې یوه هم د تاپي پروژه ده چې اسلامي امارت یې عملي کېدو ته ژمن دی او دا پروژه د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره اړینه او حیاتي بولي. د تاپي پروژې د پلي کولو په برخه کې د اسلامي امارت پرله پسې هلې ځلې اوس په حقیقت بدلې شوې.

تاپي پروژه نه یوازې د افغانستان لپاره بلکې د سیمې لپاره هم حیاتي ده. د ترکمنستان ګاز چې د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته لېږدول کېږي، په سیمه کې د انرژۍ د همکارۍ یوه نوې بېلګه ده. دغه پروژه به د سیمې د هېوادونو ترمنځ همکاري زیاته کړي او د انرژۍ د لېږد او په نړیوالو بازارونو کې د ګډون فرصتونه به برابر کړي. پاکستان او هند چې د انرژۍ له کمښت سره مخ دي، په دې پروژه کې د خپلې اړتیا وړ انرژي پوره کولای شي. له دې سره جوخت افغانستان به له دې پلوه چې یاده پروژه یې له خاورې تیرېږي په کلني ډول په ملیونونو ډالر عواید ترلاسه کړي، زرګونو کسانو ته به د کار زمینه برابره او د اقتصاد په وده کې به رغنده رول ترسره کړي.

د تاپي پروژې ترڅنګ ځینې نورې پراختیایي پروژې شته چې له دې پروژې سره یوځای یې چارې پیل شوې. افغانستان ته د اورګاډي د پټلۍ غځول، نوري فایبر پروژې، برېښنا او نور اقتصادي پرمختیایي پلانونه هم شامل دي. د ریل پټلۍ په غځېدو به د افغانستان سوداګري پراخه او د نوري فایبر پروژې په عملي کېدو سره به د انټرنېټ بیې راکمې او کیفیت به یې لوړ شي. په افغانستان کې ډېر خلک د انټرنیټ له لوړ قیمت او ټیټ کیفیت سره مخ دي. خو د نوري فایبر د زیربناوو پراختیا به وکولای شي دا ستونزه تر ډېره بریده هواره او انټرنېټ به په ملي کچه د خلکو له پاره د لاسرسي وړ وګرځي. دا ټولې پروژې به د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول ترسره او د اقتصادي ټیکاو له پاره به لار پرانیزي.

# تاپي او نورې پراختيايي پروژې

## د اسلامي امارت او د ترکمنستان مسوولينو په حضور کې پرانيستل شوې



د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الـوزراء محترم الحاج ملا محمدحسن اخند، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د کابينې محترمو غړو، سکتوري ادارو مسوولينو او د ترکمنستان ملي رهبر محترم قربان قلي بردي محمدوف، د دغه هېواد کابينې محترمو غړو او سکتوري ادارو مسوولينو په حضور کې د روان لمريز کال د سنبلې مياشتې په ۲۱مه نېټه د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د تاپي او نورو پراختيايي پروژو د کار پيل پرانيسته وشوه.

د يادونې وړ ده چې د تاپي گازو نلليکه هغه سيمه‌ييزه پروژه ده چې د افغانستان له لارې د ترکمنستان گاز پاکستان او هند ته لېږدوي. دغه نلليکه ۱۸۱۴کيلومتره اوږدوالى لري او د لېږد کلنى ظرفيت يې ۳۳ ميليارد متر مکعب او د ترانزيټ له درکه يې افغانستان ته کلنى شاوخوا ۴۵۰ ميليون ډالره فيس ورکول کېږي.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

# کار اعمار لین دوم شاهراه کابل - غزنی آغاز گردید



از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء ۲۰ ام سنبله سال جاری کار فاز اول و دوم لین دوم سرک کابل الی منطقه دشت توپ ولسوالی سیدآباد ولایت میدان وردگ افتتاح شد.

در مراسمی که به همین منظور تدویر گردیده بود، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء و برخی دیگر از مسؤلین امارتی اشتراک داشتند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسم افتتاحیه کار سرک گفت، سرمایه گذاری در زیربناهای ترانسپورتی و مواصلاتی یکی از اقدامات اساسی و مهم امارت اسلامی محسوب می شود و برای تحقق این وعده امروز کار روی این پروژه مهم را آغاز می کند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود؛ اعمار سرک دوم غزنی - کابل پل اساسی میان مرکز و جنوب است که در نتیجه فعالیت های تجارتی آسان تر، زمان و مصارف ترانسپورتی اموال کاهش می یابد و تسهیلات بیشتر برای مسافران فراهم خواهد شد.

به گفته محترم ملا صاحب، ده ها فرصت کاری جدید در مسیر راه ایجاد و این سرک باعث تقویت روابط تجارتی کابل - غزنی خواهد شد.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء افزود که شاهراه کابل - قندهار علاوه بر اتصال مرکز و جنوب، مسیر تجارتی کشور را به ایران، پاکستان و سایر کشورها تقویت خواهند کرد.

محترم ملا صاحب از شهروندان خواست تا در تکمیل این پروژه ملی همکاری نمایند تا کارهای آن به وقت معین به پایه اکمال برسد. وی همچنان از شرکت قراردادی این پروژه خواست تا به کیفیت جاده توجه نماید.

قابل یادآوری است که لین دوم کابل - غزنی ۱۱۱ کیلومتر طول، ۹ پل و ۵۹۴ پلچک دارد که کار اعمار آن در مدت تعیین شده تکمیل خواهد شد.

# د کابل - غزني دويم لین سړک
## ارزښت ته کتنه



لیکوال: قیس احمد

**سریزه:**

ترانسپورټ او ترانزیټ د یو هېواد په اقتصادي وده کې خپل ځانګړی ارزښت لري او په دغه برخه کې د معیاري خدمتونو وړاندې کول د سیمه‌ییزې او نړیوالې سوداګرۍ شبکې پراخوي. د نړۍ په کچه د ترانسپورټ او ترانزیټ لپاره تر ډېره سمندري، هوايي، ځمکني او د ریل پټلۍ شبکو له ترانسپورټ څخه استفاده کېږي؛ خو افغانستان چې بهر ته مستقیم لاسرسی نه لري، تر ډېره له ځمکني او په کمه اندازه بیا له هوايي ترانسپورټ څخه استفاده کوي. خو هغسې چې د سوداګرۍ او ترانزیټ د ودې او پرمختګ لپاره پیاوړی ترانسپورټي سیستم ضرور دی، په هغه ډول د افغانستان ترانسپورټي سیستم نه دی جوړ شوی.

افغانستان د هوايي ترانسپورټ په پرتله د ځمکني ترانسپورټ څخه ډېره استفاده کوي چې په دې برخه کې يې ډېره تکیه پر سړکونو ده. د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې د لویو لارو او مهمو مواصلاتي او ترانسپورټي سړکونو بیارغونې او اساسي جوړولو ته توجه زیاته شوې، چې بېلګه يې په دې وروستیو ورځو کې د کابل – کندهار پر لویه لار له کابل څخه تر غزني پورې د دویم لین سړک د عملي چارو پیل دی.

د کابل – غزني د دویم لین سړک په جوړېدو سره به د مرکز کابل او جنوبي ولایتونو ترمنځ تلونکو مسافرو او

همدا راز د سوداګریزو توکو د انتقال لپاره ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي، چې دا چاره به پر دغه مسیر د پرتو ولایتونو اوسېدونکو ته د نویو کاري فرصتونو پر رامنځته کولو کې خورا مهم رول ولوبوي.

موږ په دغه مقاله کې د کابل – غزني د دویم لین سرک د جوړولو د اړتیا او ارزښت په اړه لنډې خبرې کوو.

## د کابل – غزني دویم لین سړک

د کابل – غزني دویم لین سرک د کابل ښار له کمپنۍ سیمې پیلېږي او د میدان وردګو ولایت له مرکز میدان او سیدآباد ولسوالۍ څخه په تېرېدو د غزني ښار ته رسېږي. دغه سرک د کابل – کندهار د لویې لارې مهمه برخه ده چې غزني ولایت له مرکز کابل سره نښلوي او په ټوله کې له کابل سره د جنوبي ولایتونو په نښلولو کې اساسي رول لوبوي.

د کابل – غزني دویم لین سرک شاوخوا ۱۱۱ کیلومتره اوږدوالی لري چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۰مه نېټه یې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لورې په رسمي ډول د عملي چارو د پیل پرانیسته وشوه.

اوسمهال د دغه سرک د لومړي او دویم فازونو د جوړېدو چارې پیل شوې، چې لومړی فاز یې د کابل ښار له کمپنۍ سیمې پیل او د میدان وردګو ولایت تر مرکز میدان ښار پورې رسېږي او دویم فاز یې بیا له میدان ښار پیل د سیدآباد ولسوالۍ تر توپ دښتې پورې رسېږي، چې دواړه فازونه یې مجموعاً ۴۹ کیلومتره اوږدوالي لري. دغه سرک د خپل مسیر په اوږدو کې نهه لوی پلونه او ۵۹۴ پلچکونه لري چې ټول په اساسي ډول جوړېږي.

د یادو دوو فازونو چارې د ټولګټو وزارت د سرک جوړونې د انجنیري ټیم تر نظارت لاندې د خصوصي سکټور د سرک جوړونې د دوو شرکتونو له لورې پر مخ وړل کېږي، چې د لومړي فاز کارونه به یې په یو نیم کال او د دویم هغه به یې د دریو کلونو په جریان کې بشپړ شي. له پرانیستې سره سم په څلورو نقطو کې د دغه مهم سرک چارې عملاً پیل شوې، چې سلګونو کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې.

## د کابل – غزني د دویم لین سړک جوړولو اړتیا او ارزښت

د راپورونو له مخې، د افغانستان د لویو لارو او سړکونو نږدې ۵۴ سلنه برخه د نه پاملرنې له کبله ویجاړه شوې او بیارغونه غواړي چې که جدي پاملرنه او بیارغونه یې ونشي، پاتې برخې یې هم له منځه ځي. طبیعي پېښې، له اندازې زیات بار، د باروړونکو موټرو ګړندی تګ، زیاته ګڼه ګوڼه او د لارو په جوړولو کې د ټیټ کیفیت لرونکو موادو کارول د لویو لارو او سړکونو د ویجاړېدو اصلي لاملونه دي.

افغانستان د خپل جیوپولیتیک جغرافیوي موقعیت له مخې د سیمې هېوادونو ترمنځ د نښلوونکي پل حیثیت لري. که د ځمکني ترانسپورټ په برخه کې چې ټوله تکیه یې پر سرک ده، د یو منظم سیستم پر بنسټ پانګونه وشي، په کم وخت کې به هېواد د سیمه ییز اتصال په څلور لارې بدل شي او په اقتصادي وده کې به مهم رول ولوبوي. دا چې په افغانستان کې تر ډېره له ځمکني ترانسپورټ څخه ګټه اخستل کېږي، د همدې اړتیا د پوره کولو په موخه په ټول هېواد کې د زرګونو کیلومترو په اوږدوالي سیمه ییز، ولایتي او محلي سړکونه جوړ شوي، چې د هېواد مختلفې سیمې یې یو بل سره وصل کړې دي.

د کابل – غزني دوهم سړک هم یو له دې سړکونو څخه دی چې د هېواد جنوب او په ځانګړې توګه غزنی او میدان وردګ ولایتونه یې له کابل سره نښلولي دي. د دغه سرک لومړی لین لکه مخکې مو چې یادونه وکړه د طبیعي پېښو، له اندازې د زیات بار وړلو، د موټرو د ګړندي تګ، زیاتې ګڼې ګوڼې او د لارو په جوړولو کې د ټیټ کیفیت لرونکو موادو له امله ډېر زیانمن شوی و، چې اوسمهال یې د اسلامي امارت د ټولګټو وزارت له لورې د اساسي بیارغونې کارونه جریان لري او تمه ده چې د روان لمریز کال تر پایه به بشپړ شي.

دغه سړک پر میدان وردګو او غزني سربېره له کابل سره د یوشمېر مهم سوداګریزو، زراعتي او د ډېر نفوس درلودونکو ولایتونو لکه زابل او کندهار په نښلولو کې هم اساسي رول لري. افغانستان په کندهار کې د سپین بولدک مهم سوداګریز بندر لري چې په ځانګړې ډول د جنوب زون ډېری صادرات او واردات ترې ترسره کېږي. له دغه بندر څخه ټول وارداتي توکي له کندهار څخه غزني او بیا له غزني څخه د غزني – کابل سرک له لارې مرکز کابل او له دې لارې د هېواد شمالي



ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی



ولایتونو ته انتقالېږي. پر دې سربېره په فراه کې د ابو نصر فراهي، د نیمروز او په هرات کې د اسلام‌کلا او تورغونډۍ بندرونو له لارې هم وارداتي توکي غزني ته تر را رسېدو وروسته د غزني – کابل سړک له لارې کابل او له هغه ځایه د هېواد نورو برخو ته رسېږي. پر سوداګریزو انتقالاتو سربېره د هېواد له جنوبي او لوېدیځو ولایتونو څخه په ورځني ډول زرګونه مسافر د دغه سړک له لارې کابل ته سفر کوي.

دغه سړک په دې وروستیو کلونو کې د بېلابېلو دلایلو له امله ډېر خراب شوی و او خلکو ته یې ډېرې ستونزې را ولاړې کړې وې. نه مسافر په خپل وخت منزل ته رسېدل او نه هم د سوداګریزو توکو د انتقال لپاره کوم سهولت موجود و.

د همدې ستونزې د له منځه وړلو، پر دغه لار تلونکو مسافرو ته د اسانتیاوو برابرولو، د ترافیکي پېښو د مخنیوي او په وخت، لږ لګښت او خوندي ډول د سوداګریزو توکو د انتقال په موخه اسلامي امارت وپتېیله چې پر لومړي لین سربېره د غزني – کابل سړک دویم لین هم جوړ کړي.

له شک‌پرته چې د دویم لین په بشپړېدو سره به هېوادوالو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي، سوداګریز توکي به په وخت سره انتقال ومومي، د غزني او کابل ترمنځ به سوداګریز تړاو لا غښتلی شي، د دغه سړک په مسیر کې به په پرتو سیمو کې اقتصادي فعالیتونه وغوړېږي، سلګونو کسانو ته به د کار زمینه برابره شي او په ټوله کې به د هېواد په سوداګریز او ترانزیتي ترانسپورټ کې یو مهم او اساسي ګام واخیستل شي.

## پایله

د سوداګرۍ او ترانزیټ د پراختیا لپاره تر امنیت وروسته ترانسپورټي لارې ډېرې مهمې دي، چې نن ورځ ورته په نړیواله کچه ډېر اهمیت ورکول کېږي. تول هېوادونه کوښښ کوي چې د چټکې اقتصادي ودې په موخه د نورو سهولتونو ترڅنګ معیاري ترانسپورټي سیستم هم رامنځته کړي.

اسلامي امارت هم دا اهمیت درک کړی دی او د تېرو درېیو کلونو پر مهال یې په هېواد کې د مهمو سوداګریزو او ترانزیتي لارو لکه، سالنګونو، کابل – کندهار، هرات – غور، کندهار – ارزګان او په دې وروستیو ورځو کې دا دی د کابل – غزني دویم لین سړک د جوړولو چارې هم پیل کړې.

د کابل – غزني د دویم لین سړک په جوړېدو سره به د هېواد له جنوب او لوېدیځ څخه مرکز او بیا شمال ته د مسافرو د تګ راتګ او همدا راز د سوداګرۍ په برخه کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي. د سوداګریزو توکو د خرابېدو مخنیوی به وشي، د هېواد شمال، مرکز او جنوب ترمنځ به سوداګري وده وکړي، له دې لارې به ترانزیټ ته اسانتیاوې رامنځته شي، د دغه سړک په مسیر کې پراته ولایتونه به د نویو اقتصادي فعالیتونو شاهدان و اوسي، په دغو ولایتونو کې به نوي کاري فرصتونه رامنځته او په ټوله کې به یې صنعت او اقتصاد وده وکړي.

د دغه سړک په جوړېدو سره به د هېواد د معیاري ترانسپورټ په برخه کې مهم ګام واخیستل شي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ؋٦٩,٦٥ | ؋٦٩,٧٠ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلدارې | ؋٢٤٠ | ؋٢٤١ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ؋١,٢٦ | ؋١,٢٦ |
| ١ | اروپایي یورو | ؋٧٧,٢٠ | ؋٧٧,٢٦ |
| ١ | روسی روبل | ؋٠,٧٧ | ؋٠,٧٨ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلدارې | ؋٨٣٠ | ؋٨٣١ |
| ١ | انګلیسي پوند | ؋٩١,٤٠ | ؋٩١,٤٧ |
| ١ | سعودي ریال | ؋١٨,٥٦ | ؋١٨,٥٧ |
| ١ | اماراتي درهم | ؋١٨,٩٦ | ؋١٨,٩٨ |
| ١ | چیني ین | ؋٩,٨٢ | ؋٩,٨٣ |

